بسم الله الرحمن الرحيم

د بخښونکی ډیر مهربان خدای په نامه

قَالَ اللهُ تَعَالی:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا﴾

سوره الأحزاب: ۳۳

پاک الله فرمايي:

"بيشکه الله تعالی غواړي چې اي د (رسول) اهلبيتو عليهم السلام له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے."

# د انبیاؤ او اولیاؤ
# د یاد نمانځل

قَالَ رَسُولُ الله ﷺ:

«إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله ﷺ وفرمايل:

زهٔ تاسو ته دوه درانه او ارزښتناک څيزونه پرېږدم: يو د خدا ے کتاب (قران) او بل زما اهلبيت، که چيرې په دې دوو مو منګولې ولګولې نو هيڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه به يو له بله جدا کيږي نه تر دې چې د حوض (کوثر) په غاړه ما ته راورسيږي.

(صحيح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـــي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک، ۱۴، ۱۷، ۲۶او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک، ۱۸۲ مخ، مستدرك حـــاكـم، ۳ ټوک، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

# د انبیاؤ او اولیاؤ د یاد نمانځل

لیکوال:
علامه سید مرتضیٰ عسکري

مترجم:
سرفراز علي مهدي

د اهل بیتو نړیواله ټولنه

نام کتاب: على مائدة الكتاب والسنة جلد۲، الاحتفال بذكرى الانبياء

نويسنده: سيد مرتضىٰ عسكري

تهيه كننده: مجمع جهانى اهل بيت عليهم السلام - اداره ترجمه

مترجم: سرفراز علي مهدي

زبان ترجمه: پشتو

**د كتاب نوم:**

د انبياؤ او اولياؤ د ياد نمانځل

ليكوال: علامه سيد مرتضىٰ عسكري

تيارونكې: د اهل بيتو د نړيوالې ټولنې د ژباړې څانګه

ژباړه او كمپوز: سرفراز علي ايم اے عربي

تصحيح: انور شاهين خانخېل

وروستۍ كتنه: ډاكټر عبدالرحيم درانى

صفحه بندي: فاطمه ګلزار

چاپ نېټه: ۱۴۳۷هـ ق (بمطابق ۲۰۱۶م)

دچاپ وار: ورومبى

شمېر: ۲۰۰۰

چاپ خانه: اسراء

خپروونكې: د اهلبېتو نړيواله ټولنه

ISBN: ٩٧٨-٩٦٤-٥٢٩-٠
www.ahl-ul-bayt.org
info@ahl-ul-bayt

## لړلیک

د انبیاؤ او اولیاؤ د یاد نمانځل ⋗ ۱۱
د پېغمبرانو او د خدا ے نېک بندګانو د یاد نمانځلو په حقله اختلاف ⋗ ۱۱
الف- مقام ابراهیم ⋗ ۱۱
ب- صفا او مروه ⋗ ۱۳
ج- رمي جمرات یا شېطان په کاڼو ویشتل ⋗ ۱۲
د- فدیه یا قرباني کول ⋗ ۱۷
له حضرت آدم څخه د برکت پراختیا او د هغه یاد نمانځل ⋗ ۲۰
له یو ځایه د هغه ځا ے اوسېدونکو ته د سپېرۀ والي پراختیا ⋗ ۲۲
د ځا ے د سپېرۀ والي او بختور والي علت او سبب ⋗ ۲۵
د جُمعې د ورځې برکت او بختور والے ⋗ ۲۷

# د انبیاؤ او اولیاؤ د یاد نمانځل

## د پېغمبرانو او د خدای نېک بندګانو د یاد نمانځلو په حقله اختلاف

### د هغو کسانو دلیلونه چې وائي د پېغمبرانو او د خدای پاک د نیک بندګانو یاد نمانځل ثواب لري

د دې کار عقیده لرونکي د انبیاء د یاد نمانځنه یو خوښ شوی کار بلي او په هم دې استدلال کوي چې د حج زیاتره عملونه د انبیاؤ او د اولیاؤ د یاد نمانځل دي د مثال په توګه څو نمونو ته یې اشاره کوو:

#### الف- مقام ابراهیم

الله تعالیٰ ارشاد فرمائي:

﴿وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلًّى ﴾[۱]

"د ابراهیم مقام د خپل ځان لپاره مصلیٰ (د نمونځ ځای) جوړ کړئ."

په صحیح بخاري کښې یو روایت دے چې لنډیز یې دا دے: حضرت ابراهیم او حضرت اسماعیل چې کله د خدا ے کور جوړوۀ نو اسماعیل به کاڼي راوړل او ابراهیم به دیوال جوړوۀ ان تر دې چې دیوال اوچت شو نو اسماعیل یو غټ کاڼے[۲] [د پلار د پښو لپاره راوړۀ چې ابراهیم وربان‌دې ودریږي] او دیوال ته ورسي. ابراهیم په هغه کاڼي اودرېد او دیوال جوړول یې بیا شروع کړ او اسماعیل هم کاڼي هغۀ ته په لاس کښې ورکول.[۳]

له دې وروسته روایت کښې راغلي دي:

---

۱. سوره بقره: ۱۲۵.

۲. د مقام ابراهیم کاڼے.

۳. صحیح بخاری، کتاب الانبیاء، ټوک ۲، مخونه ۱۵۸-۱۵۹.

دیوال دومره اوچت شو چې ابراهیم د کاڼو د اېښودلو نور توان نه درلود نو د هم دې لپاره په مقام کاڼي اودرېد او اسماعیل بیا د کاڼو په ورکولو شروع وکړه او هغهٔ دیوال شروع کړ.

نو پاک الله لکه چې روښانه ده خلقو ته حکم کړے دے چې په بیت الله الحرام کښې د ابراهیم قدمګاه سره تبرک حاصل کړي او هغه د ځان لپاره د نمانځهٔ ځاے وټاکي چې په دې عمل سره د ابراهیم یاد ژوندے پاتے شي او دا واقعه ونمانځلې شي، او په دې کار کښې هیڅ کوم د شرک اثر نیشته.

ب- صفا او مروه

پاک الله فرمائي:

﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ ۖ فَمَنْ حَجَّ ٱلْبَيْتَ أَوِ

ٱعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَاۚ﴾[۱]

"په رښتيا چې صفا او مروه د خداے له شعائرو څخه دي نو څوک چې حج تر سره کوي يا عمره کوي، که هغوي د صفا او مروه طواف وکړي نو هيڅ ډول ګناه يې نۀ ده کړې."

صحيح بخاري په دې حقله يو روايت لري چې لنډيز يې داسې دے:

کله چې ابراهيم خپله مېرمن بي بي هاجره سره د خپل زوے اسماعيل، د مکې په دشته کښې پرېښوده او د هغوي د څښلو اوبۀ ختمې شوې او دواړه تږي شول او اسماعيل د تندې له امله په سخت تکليف کښې ؤ پښې لاسونه يې وهل او ژړا يې کوله نو بې بي هاجرې [د سخت خفګان له امله] صفا غرۀ ته منډه کړه چې اوبۀ پېدا کړي ځکه چې اسماعيل يې په داسې حال کښې نۀ شو ليدلے. کله چې د صفا د پاسه

۱. سوره بقره: ۱۵۸.

اوخته او خوا و شا ته یې سترګې وغړولې هیڅوک یې ونه لیدل نو له صفا غرۀ راکوزه شوه او د اوبو په لټه کښې مروه ته ورسیده هلته یې هم سترګې وغړولې چې کېدې شي څوک وي خو هلته یې هم څوک ونه لیدل بیا راکوزه شوه او صفا ته لاړه او هم دا رنګ اووه ځله یې دا کار وکړ خو اوبۀ یې ونۀ موندې.

ابن عباس وائي: رسول اللهﷺ وفرمایل چې: په صفا او مروه کښې د خلقو دغه سعي د هاجرې بي بي د هغې سعي او منډو [یادونه] ده.[1]

پاک الله د «صفا او مروه» «سعي» هم د حج په عملونو کښې فرض کړې ده او ټول حاجیان باید دغه سعي تر سره

۱. هماغه، مخ ۱۵۸. او هم دارنګ په معجم البلدان ماده «زمزم»، له طبري او ابن اثیر تاریخ څخه د اسماعیل تاریخ په حقله.

کړي چې د بي بي هاجرې د «سعي» یادونه وشي او د هغې بي بي دغه سخت کار ونمانځل شي.

په دې سعي کښې، په یو خاص مقام کښې باید حاجیان په منډه لاړ شي دا کار هم د هغې بي بي د یاد ژوندي کول دي ځکه چې هغې هم په تلوار او بیړې سره خپل لټون کوۀ.

## ج- رمي جمرات یا شېطان په کاڼو ویشتل

امام احمد بن حنبل او طیالسی په خپلو مسندونو کښې له رسول اکرمﷺ روایت کړے دے چې وې فرمایل:

جبرائیل امین، حضرت ابراهیم «جمره عقبه»[۱] په لور بوتلۀ او هغۀ ته یې شېطان وښودۀ نو ابراهیم په اووو کاڼو هغه وویشتۀ نو هغه اوتښتېد او ورک شو پس له دې یې د «جمره وسطی»[۲] لورې ته بوتلۀ. بیا یې هم شېطان وروښودۀ

۱. جمره عقبه یعنی: وړومبے شېطان چې د اختر په ورځې یوازې همدغه ویشتې شي.
۲. جمره وسطی یعنی: منیځنې شیطان.

او ابراهیم هغه په اوو کاڼو سره اویشتهٔ نو هغه ؤتښتېد، بیا «جَمَره قُصوی»[۱] ته راغے او شېطان بې وروښودهٔ هغه بیا شېطان په اووو کاڼو سره وویشت او هغه ؤتښتید.[۲]

خدا ے پاک د ابراهیم لخوا د شېطان د ویشتو نمانځنه وکړه او د هغه د یاد د ژوندي ساتلو لپاره یې د «رمي جمرات» عمل د حج په عملونو کښې واجب کړ.

## د- فدیه یا قرباني کول

پاک الله د ابراهیم او اسماعیل په حقله فرمائي:

﴿فَبَشَّرۡنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٖ ١٠١ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعۡيَ قَالَ يَٰبُنَيَّ

---

۱. جمره قصوی یعنی: وروستی شیطان.

۲. مسند احمد، ټوک ۱، مخ ۳۰۲ او همدې سره نږدې مضمون لري مخ ۱۲۷. مسند طیالی، حدیث ۲۲۹۷ او همدا راز مراجعه وکړئ: معجم البلدان، ماده کعبه او تاریخ طبری او ابن اثیر، د ابرهیم عليه السلام په ژوند لیک کښې.

إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلۡمَنَامِ أَنِّيٓ أَذۡبَحُكَ فَٱنظُرۡ مَاذَا تَرَىٰۚ قَالَ
يَٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ
١٠٢ فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ١٠٣ وَنَٰدَيۡنَٰهُ أَن يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ
١٠٤ قَدۡ صَدَّقۡتَ ٱلرُّءۡيَآۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٠٥
إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡبَلَٰٓؤُاْ ٱلۡمُبِينُ ١٠٦ وَفَدَيۡنَٰهُ بِذِبۡحٍ عَظِيمٖ
١٠٧ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴾[1]

نو مونږ هغهٔ ته د يو صابر او زغم کوونکي هلک زيرے ورکړ نو کله چې هغه له خپل پلار سره د ګرځيدو عمر ته ورسيد نو [ابراهيم هغه ته] وويل چې: زويه! زهٔ په خوب کښې ګورم چې تا حلالوم په دې حقله تهٔ څه وائې؟ [اسماعيل]وويل: ګرانه پلاره! تا ته چې د څه حکم شوے

۱. سوره صافات: ۱۰۱ـ۱۰۷.

دے هغه تر سره کړه او تهٔ به ان شاالله ما له صابرانو څخه بیاموميږ. نو کله چې دغو دواړو د الله حکم ته سرونه ټيټ کړل او پلار خپل زوے پړ مخې څملوۀ او مونږ ورته غږ وکړ چې اے ابراهیمه! تا خپل خوب په حقیقت کښې بدل کړ مونږ نېکو خلقو ته هم داسې بدله ورکوو بېشکه دا ډیر لوے ازمښت او امتحان ؤ، او مونږ دا په یوې ډېرې لوې قربانۍ بدله کړه او دا (قرباني) مو په راتلونکو کښې پرېښوده.

نو په دا ډول خداے پاک د دې قربانۍ د یاد د ژوندي ساتلو په مقصد، او د اسماعیل په بدل کښې د گډ یا پسَهٔ لیږل او د هغهٔ حلالول او لنډه دا چې د هغې پېښې د یاد نمانځلو په خاطر یې په ټولو حاجیانو فرض کړي دي چې په منی زمکه کښې قرباني وکړي، او په دې قرباني سره د خداے په درگاه کښې د ابراهیم د تسلیمیدو واقعه ونمانځي او یاد یې تازه کړي.

هو، په مقام ابراهیم کښې برکت او بختورتوب د ابراهیم د مبارکو قدمونو په وجه پراخه شوے دے او خداے تعالیٰ

حکم وکړ چې په «بيت اللّه الحرام» کښې دا ځاے د نمونځ ځاے وګرځوئ چې د هغه حضرت (ابراهيم) ياد تل ژوندے وي.

په دې راتلونکې برخه کښې به له آدم ابوالبشر څخه د برکت او بختورتوب پراختيا په حقله خبرې وکړو.

## له حضرت آدم څخه د برکت پراختيا او د هغه ياد نمانځل

په ځينو حديثونو کښې راغلي دي چې پاک الله د ذی الحجې د نهمې نيټې د ورځې له ماسپښين نه پس حضرت ادم وبخښهٔ بيا حضرت جبرائيل هغه د نمر پرېواتهٔ په وخت مشعرالحرام ته روان کړ چې د لسمې ذی الحجې شپه يې هلته مشعر الحرام کښې ويښه تيره کړه او ټوله شپه يې د خدا ے تعالیٰ عبادت وکړ او د توبې د قبلېدو له امله يې د پاک الله شکريه ادا کړه کله چې سحر شو نو د منیٰ په لور روان شو او په منیٰ کې يې په لسمې ذی الحجې (يعني د

لوے اختر په ورځ، خپل سر وخریئ چې دا کار یې د توبې د قبلیدو او له ګناهونو د خلاصیدو نښه شي.

خدا ے تعالیٰ هم دغه ورځ حضرت آدم او د هغهٔ د زامنو یعني بني آدمو لپاره د اختر ورځ وګرځوله او هر څه چې آدم هلته تر سره کړي وو د تل لپاره یې په تاریخ کښې ثبت کړل او هغه یې هم د حج له عملونو څخه وګرځول او اوس هم خدا ے تعالی د ذی الحجې د نهمې نیټې د مازیګر وخت په عرفات کښې د حاجیانو توبه قبلوي بیا حاجیان د لسم په شپه په مشعر الحرام کښې ټوله شپه عبادت کوي او کله چې لسمه ورځ شي په منیٰ کښې له قربانۍ وروسته خپل سرونه خریي پس له دې هم، هغه کارونه کوي چې کوم کارونه ابراهیم او اسماعیل بې بي هاجرې کړي وو هغه هم تر سره کوي او په دغو کارونو او عملونو سره د حج عملونه ختمیږي.

نوبس له هم دې امله د حج ټول عملونه د هغې زمانې او له هغو ځایونو برکت اخلي په کوم وخت او په کومو ځایونو کښې چې د خدا ے پاک غوره بندګانو په هغه وخت او

ځایونو کښې عبادتونه کړي وو او دغه عملونه يې تر سره کړي وو، او د حج دغه ټول عملونه د هغوي د ياد ژوندي کول او د هغوي د ياد نمانځل دي چې تل لپاره په تاريخ کښې باقې پاتې شي.

په بلې برخه کښې د هغو ځايونو د سپېرۀ والې او نحوست څو نمونې بيانوو چې چرته د راتلليو کسانو له امله دا سپيرۀ توب دغو ځايونو ته پراختيا پېدا کړې ده.

## له يو ځايه د هغه ځاے اوسېدونکو ته د سپېرۀ والي پراختيا

صحيح بخاري، صحيح مسلم او مسند احمد بن حنبل روايت کوي چې: رسول اللهﷺ چې په کوم کال د تبوک غزا لپاره روان ؤ نو د خپل لښکر سپايانو سره په حِجر سيمه کښې، چې د ثمود قوم د خلقو کورونه هلته نزدې وو، کوز شول د هغه حضرت ملګرو له هغه ځاه(کُوهي) څخه چې د ثمود قوم ترې اوبه څښلې، اوبه وڅښلې او ورسره يې اوړۀ لمدۀ کړل (واغږل) او د غوښو ديګونه يې تيار کړل،

پېغمبراکرمﷺ ورته حکم ورکړ چې دا دیګونه، خواړهٔ هر څه وغورځوئ او لمدهٔ اوړهٔ اوښانو ته واچوئ او بیا یې خپل سپایان په بیړه روان کړل او هغه کوهي ته ورسېدل چې د صالح اوښې له هغهٔ څخه اوبه څښلې وې، هغوی راکوز شول، او پېغمبراکرمﷺ هغوي ته وفرمایل چې هغه ځاے ته داخل نه شئ کوم ځاے کښې چې په یو قوم باندې عذاب نازل شوے ؤ او وې فرمایل:

«إنّي أَخشى أنْ يُصيبكُم مِثل ما أَصابَهُم فَلا تَدخُلوا عَليهم»؛

زهٔ ویرېږم چې هسې نه په تاسو هم، هغه شان عذاب راشي نو د هغوي ځاے ته مهٔ ننوځئ![1]

---

۱. مسند احمد، ټوک ۲، مخ ۱۱۷، عبارت له مسنده دے؛ صحیح بخاری، کتاب المغازی، باب نزول النبیﷺ الحجر؛ صحیح مسلم، کتاب الزهد و الرقائق، باب لا تدخلوا مساکن الذین ظلموا انفسهم...، حدیث ۴۰. د مسلم روایت ډېر لنډ او مختصر دے.

د صحیح مسلم عبارت داسې دے:

«وَ لا تَدخُلوا مَساکِن الَّذینَ ظَلمُوا أنفسهُم الاّ أنْ تَکونُوا باکین، حَذراً أنْ یُصیبَکُم مِثلِ ما أَصابَهُم. ثمَّ زَجَرَ وَ أَسرع حتّی خَلَّفَها»؛

د هغو کسانو کورونو ته داخل نه شئ چا چې په خپل ځان ظلم کړے دے، که غواړئ ننوځئ نو د زړۀ په حال کښې ننوځئ چې له عذابه په امان کښې وئ بیا روان شول او په بیړه روان شول ان تردې چې د هغه ځاے حدود ختم شول.

او په صحیح بخاري کښې داسې عبارت راغلے:

رسول اللهﷺ له دې وروسته خپل سَر پټ کړ او په تیزۍ سره روان شو ان تردې چې له هغې دشتې تېر شو.

د مسند احمد بن حنبل په یو بل روایت کښې راغلي دي چې:

پېغمبر اکرمﷺ په داسې حال کښې چې په اس سپور ؤ په خپلې عبا سره خپل سر پټ کړ.[۱]

## د ځاے د سپېرۀ والي او بختور والي علت او سبب

د ثمود د قوم د کوهیانو او د هغوي د سیمې سپېرۀ والے په دې علت ؤ چې هغه کارونه او ګناهونه چې هغه قوم کړي وو. چې هم د هغوي دا کارونه سبب شول چې د هغوي زمکه او د هغوي کوهیان بې برکته او سپیرۀ والے ولري او هغه بې برکتې او سپېرۀ توب، د پېغمبراکرمﷺ زمانې پورې بلکې تر ځومره چې خداے تعالی وغواړي هغه باقي پاتې کیږي.

د حضرت صالح د اوښې د اوبو د ښنلو د ځاے برکت والے او بختور والے په دې وجه ؤ چې د خداے د نېک بنده او پېغمبرﷺ اوښې له هغه کوهي اوبۀ ښنلې وې او د هغې اوښې د برکت والي له امله دغه کوهے هم بختور شو او له

۱. مسند احمد، ټوک ۲، مخ ۶۲.

برکته ډک شو چې هغه برکت د پېغمبرﷺ تر زمانې پورې بلکې تر څومره چې خدا ے تعالیٰ وغواړي هغه باقي پاتې کیږي.

څرګنده ده چې د حضرت صالح اوښه او د هغې کوهے، د خدا ے پاک په نزد له اسماعیل او د هغه د زمزم له چینې څخه زیات قدرمن نه دي. بلکه خدا ے تعالی د اسماعیلعليه السلام په برکت سره ټول عمر د زمزم چینې اوبهٔ مبارکې ګرځولې دي.

لکه څنګه چې د مکان او ځا ے برکت پراخیږي هم دا رنګ د هغو وختونو او زمانو برکت هم پراخیږي چې پاک الله په خپلو خاصو او نېکو بندګانو په هغه وخت او زمانه کښې څه نعمتونه نازل کړي وي لکه د جُمعې د ورځې برکتونه.

## د جُمعې د ورځې برکت او بختور والے

د صحیح مسلم په یو روایت کښې داسې راغلي دي:

«إنَّ اللَّه خلَق آدمَ یومَ الجُمُعة و أدْخَلَه الجنَّة یومَ الجُمُعة»؛

الله تعالیٰ آدم د جُمعې په ورځ وپنځوۀ (خلق) کړ او د جُمعې په ورځ یې هم، هغه جنت تا داخل کړ.[۱]

د جُمعې د ورځې دغه بزرګواري، عظمت او شرافت له هغه ډالیو څخه دے چې خداے پاک د جُمعې په ورځ خپلو بندګانو ته ډالۍ کړي دي او تل لپاره یې د جُمعې د ورځې برکت او بختور والے مقرر کړے دے.

د روژې د میاشتې برکت د روژې د مبارکې میاشتې برکت هم، همداسې دے لکه څنګه چې پاک الله په قران کښې فرمائي:

---

۱. صحیح مسلم، کتاب الجمعة، باب فضل الجمعه، حدیث ۱۷ـ۱۸.

﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ﴾؛[۱]

"د روژې میاشت (هغه میاشت ده) چې پکښې قرآن شریف نازل شو چې د خلقو لپاره هدایت دے او د هدایت روښانه نخښې (پکښې دي) او حق له باطله جدا کوونکے دے."

او همدا رنګ فرمائي چې:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ۝٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ﴾[۲]

"بېشکه مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه نازل کړے دے، او تا ته څه پته ده چې د قدر شپه څه ده؟!، د قدر شپه له زرو میاشتو نه غوره ده."

۱. سوره بقره: ۱۸۵.
۲. سوره قدر: ۱ - ۳.

هم له دې امله د هغې قدر شپې برکت او فضيلت، چې پکښې قران شريف په خاتم الانبياء حضرت محمد مصطفیﷺ نازل شو، د روژې ټولو شپو او ورځو ته پراخ شوے او د دې ټولې مياشتې برکت او فضيلت د دغې يوې شپې په خاطر دے چې د تاريخ په اوږدو کښې تل لپاره ژوندے پاتے شي.

د خدا ے د نېکو او خاصو بندګانو، د ياد د نمانځلو فضيلت ته له اشارې نه پس تاکيد کوو چې الله پاک د نېکو بندګانو د ياد له نمانځلو څخه زمونږ مقصد او هدف دا دے چې د پېغمبر اکرمﷺ د ميلاد په شپه مونږ د هغه حضرت، سيرت او سم او نۀ تحريف شوے سنت ولولو او واورو او هم دا رنګ د خدا ے په لاره کښې طعام ورکړوو او د هغه ثواب پېغمبر اکرمﷺ ته ډالۍ کړوو. په دې شرط سره چې د تاريخ له دې مطالعې سره د هغو بدعتونو لاره ونيسو چې ځېنې ساده کسان يې د اسلام په احکامو کښې داخلوي.

﴿والحمدُ لله رَبّ العالَمِينْ﴾